# شریعت
ورځپاڼه
د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان


## آغاز داد و ستد تجاری افغانستان و امارات متحده از طریق میدان هوایی بلخ

داد و ستد تجاری افغانستان و امارات متحده ی عربی، از طریق میدان هوایی بین المللی بلخ آغازشد.

در نخستین پرواز ، دیروز شانزده تن کالای تجاری به میدان هوایی بلخ انتقال یافت.

این نخستین پرواز تجاری میان افغانستان و امارات متحده ی عربی، پس از روی کار آمدن امارت اسلامی، از طریق میدان هوایی مولانا جلال الدین محمد بلخی است.

بنابرتلاش های سه ساله ی امارت اسلامی، این روند تجاری از امروز، با پرواز طیاره ی شرکت هوایی فلای اسکای آغاز یافت.

مسوول شرکت کارگو می گوید که با از سرگیری ... ص۷


د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۳۸۹ ګڼه / یکشنبه ۱٤ شعبان‌المعظم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۰٦ حوت ۱٤۰۲ هـ.ش / ۲٥ فبروری ۲۰۲٤ میلادي


### د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال:

# زیانمنو ته دې بنسټیزې سرپناوې جوړې شي

د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر پرون په سپېدار مانۍ کې د نورستان له مرستیال والي مولوي فیصل مختار سره وکتل او په نورستان کې د وروستی غره ښویېدنې په تړاو یې خبرې اترې کړې دي.

په دې ناسته کې د نورستان مرستیال والي مولوي فیصل مختار د دې ولایت په نورګرام ولسوالۍ کې د واورې او غره ښویېدنې پېښې په اړه د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر ته معلومات ورکړل.

مولوي فیصل مختار وویل، یاده پېښه د نورګرام ولسوالۍ په نقره کلي کې رامنځته شوې چې ۲۱ تنه پکې شهیدان، ۴ تنه ټپیان او ۲۴ کورونه پکې په بشپړه توګه ویجاړ شوي دي. هغه زیاته کړه، د نورو زیانونو د مخنیوي او له زیانمنو سره د مرستې لپاره ځانګړې کمېټه جوړه شوې چې د ولایتي ادارې په ګډون پکې د اوچا اداره هم ګډون لري.

د نوموړې په وینا، ۲۵۰ کورنۍ لا هم له ګواښ سره مخ دي چې په لنډمهال کې د نورګرام ولسوالۍ



په اوله حصه کې په لنډمهالي پنډغالي کې ځای پر ځای شوي او مرستې ورسره دوام لري.

مولوي عبدالکبیر د نورګرام پر یادې پېښې خواشیني ښودلې او په وینا یې چې زیانمنوشویو ته باید په اوږدمهال کې بنسټیزې سرپناوې جوړې شي.

د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر پر ټولو دولتي او نورو مرستندویو بنسټونو او ادارو غږ وکړ چې د نورستان له زیانمنوشویو سره دې خپلې مرستې نه سپموي.

مولوي عبدالکبیر له مرستندویو ادارو په منني وویل چې باید یاد بنسټونه او امارتي ادارې زیانمنو ته د بنسټیزو سرپناوو په جوړولو لاس په کار شي.

## د اسرائیلو د ماتې نښې؛ صهیونیست پوځ غزه کې د شاتګ هڅې کوي

په داسې حال کې چې د فرانسې په پاریس کې د اسرائیلو او فلسطیني جهادي ډلو ترمنځ د اوربند هڅې روانې دي، اسرائیلي رسنیو خبر ورکړی، چې د بنیامین نتانیاهو حکومت له روژې وړاندې له حماس او نورو فلسطیني ډلو سره د اوربند ټینګېدو او د بندیانو تبادلې ته زړه ښه کړی دی.

اسرائیلي رسنیو د ځینو صهیونیست چارواکو له قوله ویلي، چې اسرائیلي پوځ تر دې زیات د حماس او نورو جهادي ډلو پر وړاندې د جګړې توان نه لري.

دغه راز ځینو نورو رسنیو راپور ورکړی، چې اسرائیل پر لبنان د برید توان نه لري او هڅه کوي له حزب الله ډلې سره روانې ناندرۍ له نورو لارو حل او فصل کړي.

ورته وخت کې د ایران تسنیم خبري اژانس د امریکایي ورځپاڼې نیویارک ټایمز د خبر په حواله راپور ورکړی، چې اسرائیل د حماس پوځي قوت په له منځه وړلو کې پاتې راغلي او نه شي کولی دغه قوت له منځه یوسي.

نیویارک ټایمز دغه راز ویلي، چې دا مهال ۵ زره د حماس جنګیالي یوازې د غزې په شمال کې فعال دي.

## رئیسان جمهور روسیه و ازبیکستان در مورد خط آهن افغان-ترانس گفتگو کردند

ولادیمیرپوتین رئیس جمهور روسیه و شوکت میرضیایف رئیس جمهور ازبیکستان در مورد خط آهن افغان ترانس گفتگو کردند.

رسانه‌های بین المللی گزارش دادند که رئیسان جمهور روسیه و ازبیکستان، در دیدارشان در حاشیه اجلاس کازان در روسیه، در این مورد با هم گفتگو کردند.

این پروژه آسیای مرکزی را از طریق خط آهن و با عبور از افغانستان با جنوب آسیا (پاکستان و هند) وصل می‌کند.

براساس گزارش‌ها، تکمیل کار این پروژه پنج سال زمان را در بر می‌گیرد.

شماری از نهاد های جهانی آماده گی شان را برای تمویل این پروژه بزرگ اقتصادی در منطقه بیان داشته اند.

امارت اسلامی افغانستان پروژه «خط آهن افغان ترانس» را نمونه یی بارزی از همکاری های منطقه یی میداند و بر رشد همچو همکاری های تاکید دارد.

### شرکت استخراج معادن چینا-افغانستان؛

## خواهان سرمایه گذاری در تولید فولاد هرات است



مفتی محمد نسیم محمدی رئیس خط آهن ولایت هرات به خبرنگار آژانس اطلاعاتی باختر می‌گوید: فعالیت‌ها و برنامه‌های اداره‌ای خط آهن را با نمایندگان رسمی شرکت استخراج و پروسس معادن چینا افغانستان تشریح نموده و خواهان سرمایه‌گذاری این شرکت، دربخش خط آهن این ولایت ... ص۷

### طبیعي پېښو سره د مبارزې وزیر:

## هڅه کوود زیانمن شویو کورنیو ستونزو ته رسېدنه وکړو

د نورستان مرستیال والي مولوي فیصل مختار د طبیعي پېښو سره د مبارزې او چمتووالي سرپرست وزیر ملا عباس اخوندزاده سره لیدنه کړې.

مرستیال والي ملا عباس اخوندزاده سره د نورګرام ولسوالۍ د تتین درې د نکره کلي د ورستیو ځاني او مالي زیانونو په اړه معلومات شریک کړي او له نوموړي یې غوښتي، چې له زیانمن شویو کورنیو سره ډېرې مرستې وشي د نورو مرستو ترڅنګ باید ورته دایمي سرپناه هم جوړه شي.

د طبیعي پېښو پر وړاندې مبارزې او چمتووالي سرپرست وزیر په یاده پېښه ژوره خواشیني ښودلې او مرستیال والي ته یې ډاډ ورکړی، چې د تیر په څېر به ورسره هر ډول مرستې وشي.

د یادونې وړده، چې تر دې وړاندې هم د پېښو پر وړاندې د مبارزې وزارت او نورو اړونده مرستندویه بنسټونو له لوري ورسره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې ترسره شوي دي.


د ځانګړي استازي ټاکنې سره د اسلامي امارت مخالفت ۲
منځنی اسیا د راپورته کېدو په درشل کې ۳
افغان اعلانات ٦


## کار ساخت وساز سرک اتصالی وحدت رو به تکمیل است



**شریعت:** کار ساخت سرک جدید اتصالی بادام باغ الی سرک باغ بالا از مربوطات ناحیه هفدهم شهر کابل رو به تمکیل است. نعمت الله بارکزی نماینده ریاست شاروالی کابل به خبرنگار روزنامه شریعت گفت: «کار ساخت سرک اتصالی سرک بادام باغ الی سرک باغ بالا به طول ۹۰۰ متر و با عرض ۲۰ متر از سوی ریاست کار حفظ و مراقبت شاروالی کابل در حال جریان و رو به تکمیل است.»

وی می گوید که به طول ٤۰۰ متر این سرک چندی قبل از سوی ریاست شهر داری کابل قیر ریزی شده بود و اکنون کار بالای زیرساخت و بدنه‌ی خاکی قسمت‌های ... ص۷

## هلمند کې د وسپنې د قاچاق مخنیوی وشو



د هلمند ولایت ځایي چارواکي وايي چې امنیتي ځواکونو د دغه ولایت په ګرمسېر ولسوالۍ کې د وسپنې د قاچاق مخنیوی کړی.

ځايي مسوولین وايي چې امنیتي ځواکونو د هلمند ولایت د ګرمسېر ولسوالۍ په ریګ بي بي تیري او جندوم سیمو کې دوه ښېنس موټرونه له ناقانونه وسپنې او مسو ډک نیولي دي.

خبر زیاتوي چې په دغو دوو ښېنس موټرونو کې ټوله شوې وسپنه او مس بار وو چې د امنیتي ځواکونو له لوري کشف ... ۷مخ

### سرمقاله

## افغانان او نړیواله ټولنه

له دې حقیقته هیڅوک انکار نه شي کولی چې د ځمکې پرمخ دا وخت میلیاردونه انسانان ژوند کوي. دغه مخلوق که څه هم ټول له یوه پلاره پیدا دي خو تر منځه یې د بڼو، رنګونو، قومونو، ژبو، افکارو، عقایدو او نورو ژوندینو رسومو او طور - طریقو کې حتماً څه توپیرونه هم شته. البته له دې ګردو توپیرونو سره سره بلا ډېر مشترکات هم لري. مثلاً ټول انسانان غړېدونکي دي، توالد او تناسل لري، کورني او قومي تړاوونه پالي، هریو د بریا او پرمختګ هڅه کوي، هر یو له غلامي خلاصون او خپلواکي ساتل غواړي او هره پرګنه د ځان او خپلې ټولنې د سوکالي او بسیا کېدو لپاره هلې ځلې کوي. په همدې توګه افغان هم د نړۍ د زرګونو قومونو او ملتونو له جملې یو ملت دی چې طبعاً د ډېرو انساني مشترکاتو پر اساس د سترې نړیوالې ټولنې یوه برخه تشکیلوي. دا چې د ځمکې پرمخ اوسېدونکي انسانان د عقیدې له مخې ان له پیله پردوو مسلم او غیر مسلم ډلو وېشل شوي او نا مسلمان وګړي په شمېر او نفوس کې همېشه زیات دي، ښکاره ده چې د ځمکې ډېرې واک او وسایل هم د دوی په لاس کې دي او همدا وجه ده چې داوخت د ملګرو ملتو په نامه یوه رسمي نړیواله اداره چې اصلاً په مطلق ډول دګرد بشریت د انتظام په پار منځ ته راغلې، بیا هم اسلامي امت سره کاملاً میرنی چلند کوي. تردې چې د ټولو مسلمانانو پر وړاندې د نوموړې ادارې دریځ له بد بینۍ، دښمنۍ او دوه مخۍ بالکل ډک دی. د یادې ادارې د همدې حسودانه چلند له امله یو شمېر ضعیف النفسه مسلمانو ملتونو یو مخ د غوړه مالۍ تګلاره غوره کړې او د نورو د خوښۍ لپاره یې خپل زیاتره ارزښتونه له پامه غورځولي، خو افغانان بیا یوداسې ملت دی چې ښایي له دې پلوه یې په نړۍ کې سیالان ... ۷مخ

## یک هیئت وزارت صنعت و تجارت به ایران رفت

وزارت صنعت و تجارت از سفر هیئت تخنیکی امارت اسلامی افغانستان پیرامون بحث در مورد افزایش همکاری های ترانزیتی و انکشاف صادرات افغانستان به ایران خبر داد.

دفتر مطبوعاتی وزارت صنعت و تجارت دیروز با ... ص۷




## ننګرهار کې د نږدې ۱۷۲ زره ډالرو په لګښت د یوې کرنیزې پروژې چارې بشپړې شوې

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت مسوولین وايي چې د ننګرهار په چپرهار ولسوالۍ کې د ۱۷۱ زره ۹۷۱ ډالرو په لګښت د اوبولګولو د یوې پروژې چارې بشپړې شوې دي.

دغه وزارت ویلي چې دغه پروژه د جاپان پلټ فارم په مالي لګښت بشپړه شوې چې په کې د ۲۹.۳ کیلو متره په اوږدوالي د ګلدرې کانال او فرعي لښتیو پاک کاري، یو سربند، ۹۸۸ متره استنادي دېوال او د اوبو د کنټرول په موخه د دوو دروازو رغول په کې شامل دي.

د یاد وزارت د معلوماتو له مخې؛ د ګلدرې کانال کې ۲۴۳ کسانو ته د دوه میاشتو لپاره د کار زمینه هم برابره شوې وه، چې په جوړولو سره یې ۱۳ زره ۸۵۰ جریبه کرنیزو ځمکو ته د اوبو رسولو زمینه برابره شوې ده.

# جهادي خاطرې

## یوه پېښه
## زما مېرمن هم په شهادت رسېدلې!

**مولوي حیات الله مهاجر فراهي**

۱۳۹٦/۱۲/۱٦ هـ لمریز کال
د فراه ولایت بالابلوک ولسوالۍ کې ګډ غلیم د عملیاتو په موخه راوتلی و، د مجاهدینو له لوري د سخت مقاومت سره مخ شو، دروند زیان ور واوښت، ګڼ شمېر خارجي یرغلګر ځواکونه ووژل شوه.
همدا شان په دې جګړه کې څنې مجاهدین هم په شهادت ورسېدل چې یو پکې مولوي نصرت اغا شهید هم و، چې د بالابلوک ولسوالۍ د نظامي کمېسیون مسؤلیت هم ور دغادي و.
دښمن د خپل همېشني عادت له مخې په سیمه کې درنده بمبارۍ وکړه، ګڼ شمېر ولسي کورونه یې رنګ کړل چې زیات شمېر ولسي وګړې د ښځو او ماشومانو په ګډون په کې په شهادت ورسېدل.
موږ د دې لپاره چې په سیمه کې د ولسي خلکو د شهیدانو او زیانونو جاج واخلو د ګراني کلي ته روان شو.
کله چې رود ته راشیوه شو یو ځوان مې تر سترګو سو چې پلی روان و، موټر مې ورته ودراوه ځوان هم موټر کې سپور شو. د جوړ په خیر نه وروسته مې ترې وپوښتل ځوانه د کوم کلي یاست؟ ځواب یې راکړ د ګراني د کلي.
ښه ځوانه که د دې بمبار په هکله لږ معلومات راکړئ؟ ځوان په داسې حال کې چې د خپګان نښې یې له ورایه پر مخ ځرګندې وې سوړ اسوېلی وکېښ او بیا یې په خبرو پیل وکړ:
دلته په یوه کور کې څو کسان او ښځې په شهادت ورسېدلې چې یوه په کې زما مېرمن هم وه. ښه ښه ستاسې کوروالا؟ ځوان را غبرګه کړه. هو زما مېرمن! چې تراوسه یې لا جسدونه تر خاورو لاندې دي او نه دي را اېستل شوي.
ځوان دوام ورکړ ما کوزده په پنځه لکه افغانۍ کړې وه چې دوه نیم لکه مې په درې کاله کې خسر ته رسولې وې او دوه نیم نورې یې پاتې وې.
باور وکړئ د دې ځوان په حالت ډېر وځورېدلم چې په درې کاله کې یې نیم ولور اداء کړی او کور ودانه یې په شهادت ورسېده او بیا به د بلې کوزدې وس څه ډول او کله پیدا کوي. ؟!
د ځوان زړه له کوټلو وېنو ډک و، غوښتل یې چې د خپل ویر داستان ته نوره هم ادامه ورکړي خو موږ هم خپل هدف ته ور ورسېدو او د ډرون الوتکو له ډاره مو په بېړه موږ ته د راسپارل شوي دندې په ترسره کولو پیل وکړ.
***

### زړه درته کوچنی نه شي!

۱۳۹۸/۲/۲۳ هـ لمریز کال
نجات شهید ډېر اخلاص مند او تقوا داره مجاهد و، د ډېرو سختو شپو او ورځو ملګری مو و. هغه وخت چې د خارجي ځواکونو د ځمکني او هوایي چاپو د ډار خپسکې ټول چاپېرچل تر اغېز لاندې نیولی و، د ده کوټه او باغ زموږ لپاره پټنځای او پناه ګاه وه.
کله چې به ورغلو خورا په اخلاص، دیانت او خوښۍ به یې خدمت کاوه، کله ناکله خو یې آن ټوله شپه په یواځې ځان پیره هم کوله.
د الله کارونه دي کله چې ده تازه د ځوانۍ په پسرلي کې پل ایښی و، پلار او کاکا یې (محمد شریف چې د روسانو په وړاندې د جهاد په مهال یو تکړه قوماندان و) په تېر امارت کې د شر او فساد له ځواکونو سره په مبارزه کې د بادغیس ولایت په مربوطاتو کې په شهادت ورسېدل.
ده هم د امریکایانو د اشغال په خلاف تر خپل وسه په جهاد کې ونډه اخیستله، تل یې هڅه دا وه چې د جهاد اسباب په خپل شخصي حساب برابر کړي.
قسمت یې همداسې و، د فراه رود ولسوالۍ کې د ګڼو نورو مجاهدینو سره د روژه ماتي په مهال د ډرون په ګوزار کې په شهادت ورسید.
کله چې یې د فاتحې لپاره د کور په طرف روان شوو ټوله لار کې مې دا اندېښنه وه، چې څه ډول یې د اولادونو سره مخامخ شم؟! زه چې کله د شهیدانو د تعزیت لپاره ورځم واقعاً ډېر تر اغېز لاندې راځم پر قربیانو، خپلوانو او اولادونو مې سخت زړه سوځي.
کله چې د موټر نه کښته شوو، په خوله کې مې لاښي وچې شوې، پښې مې په رېږدېدا وې کله چې د شهید د زوی (چې عمر به یې ۱۷ کالوته رسېدی) سترګې پر موږ ولګېدې مخې ته راغلی، له لیرې یې په خندنۍ لهجه رږغ وکړ مولوي صاحب! الله مو راوله، داسې نه چې د لوی لالا په شهادت (ما به د ده پلار ته همدا تخلص کاراوه) مو دیغیت کړی وي او یازړه درته کوچنی شوی وي... تشویش مه کوه د ده پر ځای زه یم چې هر خدمت و، اماده یم ... باور وکړئ د دې ځوان د غیرت نه ډکې وینا ماته ډېره روحیه راکړه خپګان مې ختم شو او په نورماله توګه مې د تعزیت مراسم پر ځای کړل.
***

### شهید رستم کاکا

۱۳۸۰ هـ لمریز کال د ثور میاشت
زندان کې سخته لوږه تنده وه... یو اندازه شوله یې په ورغوي کې راکوله. وروسته بیا یوه وره ګردۍ ټیکله هم کله ناکله ورسره راتله. زموږ سره په خونه کې د رستم کاکا په نوم یو د پوخ عمر (معمر) ملګری و، عمر به یې د پنځه څلوېښت او پنځوس ترمنځ و او په اغلب ګومان د هلمند د موسا کلا ولسوالۍ استوګن و.
ډېر عاجزه انسان وو دنګه او پیاوړې تنه یې وه، خو د زندان کړاوونو سم پر ملا خم کړی و، یوه ورځ یې په زندان کې د یوه بل زنداني ملګري سره خېښي هم وکړه.
په وروستیو ورځو کې د زنګنو له درده هم سخت کړېده او په ډېر تکلیف به یې ناسته او پاسته کول. کله چې له زندانه را خوشي شو نو څرنګه چې زندانیانو له ډېره وخته غوښې نه وې خوړلې، رستم کاکا هم پر کوم هوټل ور برابر شوی و، څه غوښې یې خوړلې وې او څرنګه چې د زندانیانو کولمې و چې شوې وې نو رستم کاکا د دې خوراک لامله په شهادت ورسېد او کور ته د تللو ارمان یې ګور ته یووړ.

# د ځانګړي استازي
# له ټاکنې سره د اسلامي امارت مخالفت

**محمد کوثر دولتزی**




دا چې په دوحه کې د افغانستان په تړاو م.م لخوا په ناسته کې اسلامي امارت د نه ګډون پرېکړه کړې، چې دا پرېکړه یې د خپلو ملي منافعو، دیني او نړیوالو قوانینو پر بنسټ د یو ازاد، خپلواک او مستقل هېواد په توګه وکړه.
د هېوادونو له تاریخ څخه هېڅ شی پټ نشي پاتې کېدای هغه که د یو هېواد سره خیانت وي او یا قهرماني تل به یاد ساتل کېږي او د نورو لپاره به د عبرت او درس په توګه یادول کېږي.
په همدې خاطر د اسلامي امارت لخوا د افغانستان لپاره د ځانګړي استازي ټاکلو سره دا تاریخي مخالفت کول ناڅاپي پرېکړه نه ده بلکې د افغانستان اسلامي امارت د افغانستان د تېر ۳۰۰ کلن تاریخ او د اوسني نړیوال دجالي فتنو څخه باخبر دي او دا ورته د لمر په شان روښانه شوې چې دوی په محض ښکلې او غولوونکو خبرو نشي غولېدای او نه هم ورته په نړیوال بازار کې کوم قیمت ټاکل کېدای شي.
د فریدون سینیور اوغلو د ځانګړي استازي وړاندیز کټ مټ داسې دی لکه په نولسمه پېړۍ کې چې انګرېزانو هند او د برصغیر لویه وچه د خپل وایسرایګانو ( لارډ کینن، لارډ لارنس، میکناټن، کیوناري، رابرټس او نورو په واسطه) اداره کول، چې په دې موده کې د دوی په داخلي چارو کې ۵۰ سلنه لاسوهنه او د دوی بهرنۍ اړیکې په بشپړه توګه د خپل تر کنټرول لاندې راوستي وو.
د ښاغلي اوغلو وړاندیز هم یو ځل بیا د افغانستان بهرنۍ چارې په مستقیم او غیر مستقیم توګه په خپل لاس کې نیول دي او نړیوال په دې توګه هڅه کوي چې د خپل نوي امپریالېزم نظریه په یو څه ښو او ښایسته ټکو کې بیا تعریف کړي، داسې وښیي چې دې کار سره مخالفت کول د اسلامي امارت سیاسي بصیرت د سوال لاندې راوړل دي.
همدا راز، په بهر کې هغه افغانان چې ځانونه روشنفکره بولي او ورسره نړیوال داسې فکر کوي چې د اسلامي امارت لخوا د ځانګړي استازي سره مخالفت کول په دې دلالت کوي چې دوی په نړیوال سیاست نه پوهېږي او په لوی لاس خپل ځان نړیوالې انزوا ته ورغورځوي، حال دا چې داسې نه ده، دوی فقط په خپلو ښایسته خبرو زموږ په بهر کې ناست افغانان خطا باسي لکه څنګه چې یې د تاریخ په اوږدو کې کړي دي. اسلامي امارت له ټولو زیات په دې ښه پوهېږي چې د ځانګړي استازي سره مخالفت کول به په لنډ مهاله توګه په اصطلاح روشنفکره افغانانو لپاره او ورسره ښکلې خبرې کوونکي نړیوالو لپاره منل یو څه ستونزمن وي، خو په اوږدمهاله کې به نه یواځې د افغانستان بهرنی او داخلي افغانانو لپاره د ویاړ وړ وي، بلکې د تاریخ په زرینو پاڼو به تل تر تله پاتې وي.

# ترهګر او تروریست څوک دي؟

**لیکنه: مولوي نورالحق مظهري**

راځئ چې د تاریخ پاڼې وګورو او له خپل عقل څخه په استفادې دا معلومه کړو چې تروریست څوک دي؟ په خاصه توګه هغو کسانو ته وایم چې د تعصب له امله یا له کفري نړۍ څخه په ړوند تقلید مسلمانانو ته او یا هم هغو کسانو ته چې د خپلو هېوادونو څخه دفاع کوي تروریست او ترهګر وایي.
هر انسان چې د تعصب پردې له خپلو سترګو لرې کړي، له خپل عقل څخه دې کار واخلي، د عدل او انصاف په ترازو دې فیصله وکړي، د درواغجنو انسانانو تقلید دې نه کوي او تاریخ ته دې په ځراکت وګوري ارومرو به ترهګر او تروریست وپېژني.
راځئ د تروریست او ترهګر فیصله به تاسې لوستونکو ته پرېږدو لومړی به په تاریخ کې د هغو سترو وژنو احصائیه ذکر کړو چې د تاریخ کتابونه او ویب سایټونه پرې ډک دي:
۱ - جاپاني کمونیست «هیدیکي توجو» ۵ میلیونه انسانان ووژل.
۲ - بلجیکي نصراني دویم «لیوبولد» ۱۰ میلیونه افریقایان ووژل.
۳ - جرمني کاتولیک نصراني «ادولف هتلر» ۲۰ میلیونه انسانان ووژل.
۴ - روسي کمونیست «جوزف ستالین» ۴۰ میلیونه او د ځینو روایاتو پر اساس ۶۰ میلیونه انسانان ووژل.
۵ - چینایي کمونیست «ماوستي تونغ» ۵۰ میلیونه او د ځینو روایاتو پر اساس ۷۰ میلیونه انسانان ووژل.
۶ - روسي کمونیست «لیونید بریجینیف» ۱،۵ میلیونه انسانان ووژل.
۷ - ایتوپیایي کونیست «منغستو هیلا مریام» ۲ میلیونه انسانان ووژل.
۸ - روسي کمونیست «لینین» ۴ میلیونه انسانان ووژل.
۹ - کوریایي کمونیست «تیم ال سونغ» ۲،۵ میلیونه انسانان ووژل.
۱۰ - کمبودیایي کمونیست «بول بوت» ۲ میلیونه انسانان ووژل.
ښه! پورته کسانو چې ټوله غیر مسلمان وو سره د دې چې په میلیونونو انسانان یې وژلي دي ولې څوک ورته ترهګر او تروریست نه وایي؟ ولې یې څوک د مذهب او ایدیالوژۍ غندنه نه کوي؟ ولې یې څوک هېوادونه د نړۍ لپاره خطر نه ګڼي؟ او ولې یې لا هم پلویان د نړۍ پر ډېرو هېوادونو واکمن دي؟؟؟
دا ملګري ملتونه چې د عدالت او منځګړیتوب نغارې ډنګوي چېرې دي؟ دا د بشر د حقوقو مدافعین چې په ډېرو بغارو یې ستوني شیرې شول چېرې دي؟ او دا نړیواله جنایي محکمه چې یواځې یې د مسلمانانو پسې لېڅې رانغښتې چېرې ده؟؟؟
د تکنالوژۍ او روښن فکرۍ په زمانه کې چې ځینې سوټه فکره انسانان یې هر وخت او هر ځای زمزمه کوي دا روښن فکري، عقلانیت او بشرپالنه چېرې ده چې په مخ کې یې نن د اسرائیلي غاصبو صهیونستانو لخوا په ډله ییز ډول د غزې مسلمانان وژل کېږي؟
اصلي خبره دا ده چې دا ټوله د مسلمانانو او اسلامي نظامونو لپاره دسیسې دي خو د افسوس خبره دا ده چې لا هم زموږ ځینې ساده فکره، سرتمبه او غرب پلوه انسانان له دوی سره د ترهګر خبره زمزمه کوي او مسلمانانو ته یې نسبت کوي.
دا ځینې په اصطلاح روښن فکره انسانان چې خپل فکر، زړه او خوله یې ټوله د مادیاتو تابع ګرځولې وي ولې د یو لږ وخت لپاره خپل فکر نه روښانه کوي او د خپل عقل څخه د اصلي مثبت او منفي، تور او سپین او ښه او بد په جلا کولو کې کار نه اخلي؟؟؟
راځئ مسلمانانو وروڼو او خویندو! نور د خپل انساني فکر، بشري استعداد، دیني فراست او علمي ځراکت څخه کار واخلو او د خپلو مسلمانانو وروڼو او اسلامي نظام په وړاندې د پردیو په تبلیغاتو دوکه نه شو او ځانونه د ناپوهو انسانانو ښکار جوړ نه کړو!
د تاریخي پېښو مأخذ: ویکیپېډیا، قاسیون او ارم نیوز ویب پاڼې.

# د امریکا پلان بیا ناکامېدل

**شیخ صابر**




د دوحې غونډې ټول کوشش او مقصد دا و،چې له اسلامي امارت سره د ګاونډیانو او سیمې جوړې شوې اړیکې ببرته خرابې او یا کمزورې کړي، خوشال خان ختک وایي
له خوشال سره که کېنې یو ځو ورځې
دا د غرۀ ختک به واړه شاعران شي
دوحې په مذاکراتو او مجالسـو کې د علماء کرامو د غونډې اثر په زلمي خلیلزاد هلته راښـکاره شو چې پښتو یې زده او وچه ککره یې د امارت ترجماني شروع کړه چې هغه وخت هم ټامیانو پرې ډېره غوغا جوړه کړې وه !
نن هم داسـې څه پېښ شول ملګرو ملتونو+آمریکا هم غوښتل افغانستان یواځې کړي خو د علماء کرامو د مجالسـو اثر یو ځل بیا لکه بلبـل نغمې ووهلې، چین،روس او ایران ورته ښکاره وویل چې څه بابا !
مورږ نور تاسـې د شر و فساد جرړه په دا سیمه کې نه غوارو ....
او مورږ د ملاصاحبانو وچ کلک ملاتړ کوو ښـه یې وکړل چې غونډه کې یې ګډون ونه کړ او نه له هغو نامعلومو اسـتفراق شویو سره ګورو چې تاسې دلته د مدني فعالانو په نوم راوستلي دي ...
خدای یې چې درته سـموي په اوبو کې به دې اور بلېږي ...
هغه داسـې چې دوه ورځې وړاندې په دې غونډه کې نه ګډون د اسلامي امارت لپاره تاوان ګڼل کېده، خو نن هر چا وویل چې اسـلامي امارت په وصال کې دومره ګټه نه کوله لکه فراق کې ...
په دې اړه یو شعر رایاد شو
د وصال مزه که نه وای ما څکلې
په فراق به تر ازله وو خوشاله
امارت نن لا مطرح او پیاوړی شـو، غرب به کتلي وي چې لږ وخت کې په سـیمه او ګاونډ کې د اسلامي امارت کردار ډېر جوت شوی دی...
یـو څه وخت به نـور هم نازونه نخرې وکـړي خو با الاخره بـه د هوتک صاحب په اصطلاح له همغه سـوري راوځي او د افغانسـتان ویاړلي ملت سل او پنځوس ټولې به مني.

# د قرآن کریم ریاضي حقایق

**دویمه برخه - سید معصوم الله عاصم**

اول : په قرآن کریم کې د (یوم) کلمه چې د ورځې په معنا ده (۳۶۵) ځلې راغلې چې د کال ورځې هم (۳۶۵) دي، خو د جمعې په شکل بیا (ایام) (۳۰) ځلې راغلی چې د هغې څخه مراد (۳۰) ورځې د میاشـتې دي او د میاشـتې (شهر) کلمه (۱۲) ځلې راغلې، چې د هغې څخه مراد د یو کال (۱۲) میاشـتې دي.
د (بحـر) کلمه (۴۱) ځلې راغلـې او د (بر) وچې کلمـه (۱۲) ځلې راغلې، د دې مطلـب دادی چې د فیصدۍ په لحاظ ځمکه په سـلو کې (۲۹) برخې وچه او (۷۱) برخې په سلو کې اوبه لري.
دوهم: که چیرې د( الدونیا )حروف شـمېرو نو شپږ دی او د (الحیاة) حروف هم شپږ دي، آسـمانونه ځمکې هر څه الله تعالی په شپږو ورځو کې پیدا کړي.
دریم: په قرآن کې داسـې حروف شته چې د هغې مقابلې کلمې هم ورسره راغلي:
(حیـاة) ژوند کلمه (۱۴۵) ځلې راغلې خو د هغې مقابله مرګ هم (الموت) (۱۴۵) ځلې راغلې.
(الصالحات) کلمه (۱۶۷) ځلې راغلې، مخالفه کلمه (السـئات) هم (۱۶۷) ځلې راغلې.
(الدونیا) کلمه (۱۱۵) ځلې راغلې (الاخره) هم(۱۱۵) ځلې راغلې.
(الملائکه) کلمه ( ۸۸) ځلې راغلې، (الشیطان) کلمه د هغې مخالف په نه اطاعت کې هم (۸۸) ځلې راغلې.
د (النور) کلمه او د هغې مشـتقات (۲۴) ځلې راغلې او (الظلمة) او د هغې مشتقات هم (۲۴) ځلې راغلې.

# منځنۍ اسیا د راپورته کېدو په درشل کې

**ثناء الله عمران**

منځنۍ اسیا د اوږده مهال لپاره د روسیې د نفوذ ساحې په توګه پاتې شـوې، په یووشـتمه پېړۍ کې دا سیمه د لویو قدرتونو تر منځ د سـیالۍ په یوه مهم ډګر اوښـتې ده.
منځنۍ اسیا له اوږدې مودې راهیسې د ډېرو غربي جیو پولیټکل مفکرینو او د بهرني سیاسـت د ستراتیژسـتانو پـه ذهنونـو کـې د جیـو پولیټکل سـاحې پـه توګه تصورېږي، چې د روسـیې په انګړ هم مشهوره ده. دا د پخواني شوروي اتحاد تر ړنګېدو وروسته د کمزورو او روسـیې ته د نږدې حکومتونو سیمه پاتې شوې ده،خو دغـه انګېرنې پـه تدریجي توګه د بدلـون په حال کې دي ځکه چې اوسـنی جیوپولیټکل لید د سـتراتېژیکو بدلونونـو له امله د څو قطبي کېدو په لور دی.
په لویه کچه په سـیمه کې تازه بدلون په ځانګړي ډول افغانسـتان چې تازه یې تر ډېره بریده په سیمه کې د ډله ییز غرب د شـرارت محوره سیاسـتونو ځاله ړنګه کړې ـ کولی شـي د منځنۍ اسـیا په مثبت لور یون کې ښه رول ولوبوي.
په بیـن المللي چارو کـې د منځنۍ اسـیا اهمیت ته پخوا هم اشـاره شوې. د شـلمې پېړۍ په لومړیو کې د جیوپولیټکل متفکرینو له جملې څخه هالفورډ مکینډر د یورشیا سـیمې ته زیاته پاملرنه کړې، سره له دې چې د نومـوړي د نظریې منتقدین لږ هم نه دي خو نوموړي استدلال کاوه چې د نړۍ د برخلیک په اړه به هغه ملت پرېکړه کوي چـې د هارټلنډ یا محور سـیمه د هغه له لـوري کنټرولېـږي. هارټلنډ د مرکزي آسـیا یوه پراخه سـیمه ده چې په لوېدیځ کې د کارپاتیانو، په سویل کې د هندوکـش غرونو لړۍ، په ختیځ کـې د التای غرونو ترمنځ موقعیت لري او په شـمال کې د بالتیک سمندر له خوا محاصره ده.
د مکینډر بحث او استدلال ساده وو د هغه په باور چې د شلمې پېړۍ تر لومړیو پورې لویې غربي شخړې اکثراً د یوریشـیا په څنډو(لکه هسپانیا او لوی بریټانیا) کې د سـمندري امپراتورۍ او په دننه کـې د مځکني ځواک ترمنځ وي. سـمندري قدرتونو د یورشیا او هاخوا (نوې نړۍ) د ځمکني قدرتونو د ماتولو لپاره د څنډو له منابعو څخه کار واخیسـت،خو که د یوریشیا ځمکنی قدرت په بشـپړه توګه د هارټ لنډ یا د محور سـاحې منابعې کنټرول کړي، دې سـره ممکن نړیوال تسـلط هم خپل لاس کې واخلي. نوموړی خپل استدلال داسې خلاصه کوي: څوک چې پر شـرقي اروپا واکمن وي هغه به پر هارټلنډ حاکمیت ولري؛ څوک چې پر هارټلنډ واکمن وي هغه به د نړۍ پـر (ټاپو)جزیره حاکمیت ولري؛ او څوک چې د نړۍ پر ټاپو(اروپا،اسـیا او افریقا) واکمن وي هغه پر نړۍ حاکمیت ولري.
د پخواني شوروي اتحاد سقوط څخه وروسته د منځنۍ اسـیا ټول دولتونـه دې ته اړ نه وو چې پـه عملي توګه تقریباً هر څـه له صفرڅخه پیل کړي بلکې سیاسـي، اقتصادي او اداري سیسـټمونه د شـوروي مهال څخه جوړ په میراث ور رسېدلي وو.
له نظریاتي اړخه هم نه یوازې د منځنۍ اسـیا هېوادونه بلکې په خپله روسیه او چین په ځانګړې توګه د اقتصاد په ډګر کې د پخواني شـوروي اتحـاد پر فکري خط نه دي روان، په څه توپیر سـره مختلط اقتصادي سیسـټم تعقیبوي.
ډلـه ییز غـرب د پخواني شـوروي اتحاد له سـقوط وروسته غوښتل په منځنۍ اسیا کې د پام وړ نفوذ ولري چـې په لومړیو کې تر یوه بریـده واتونېدل په تېره بیا پر افغانسـتان د یرغل پر مهال خو په دغه هېواد کې تر دوو لسیزو خونړیو جګړو وروسـته ماتې یې نفوذ خورا کم رنګه کړ.
له یوې‌خوا په زېرمو سـمبال منځنۍ اسیا بلخوا زېرمو ته تږی ډله ییز غرب په ځانګړي ډول امریکا په سـیمه کې د نفوذ موندلو او پراخولو سـره خـورا لېوالتیا لري خو په دې چاره کې د امریکا لوی سـیال چین په خورا چټکۍ سره د ودې په حال کې دی.
د چیـن دا چټک پرمختګ ممکن په منځنۍ اسـیا کې دوامداره واوسـې ځکـه هغه ګواښ چې د افغانسـتان د اشـغال پر مهـال د اشـغالګرو او د یرغلګرو تر چتر لاندې د خوارجو له اړخه چین، روسـیې او د سـیمې نورو هېوادونو مشروع ګټو ته متوجه وو اوس رفع شوی دی.
دا چې پـه افغانسـتان کـې وروسـته له ډېـره وخته د یـوه مرکـزي پیـاوړي حکومت په شـتون کې سـر تاسـري امنیـت رامنځته شـوی دې چارې په سـیمه کې د پرتو هېوادونو سـره د توسـعې هیلـې راټوکولې دي.
روسـیه چې له تاریخي لحاظ په سـیمه کـې نفوذي ځواک پاتې شـوی دی، هڅه کوي خپل دغه ځواک تل پاتې وسـاتي؛ خو په اوکراین کې د جګړې له پیل سره په سـیمه کې د هغه د ملګري چین نفوذ مخ په پراختیا بریښـي او د یوه مهم لوبغاړي په توګـه راڅرګندېږي، د یـوه کمربنـد او یوې لارې پروژې او یو شـمېر نورو نوښـتونو له لارې خپل اقتصادي او سـتراتیژیک رول پراخوي.
د اوکراین له جګړې سره د ټرانس ــ کسپین بین‌المللي ترانسـپورټي دهلېز تـه چې په منځني دهلېز سـره هم مشـهور دی پاملرنه زیاته شـوې، خو د شمالي دهلېز څخه بیا اسـتفاده لږ شـوې پهداسـې حال کې چې د منځنـي دهلېز څخـه د توکـو د لېږد بهیـر پېچلی او لګښت یې زیات دی.
د چین لیوالتیا هـم د منځني دهلېز په لور ده. د منځني کوریډور له امله د منځنۍ اسـیا هېوادونو ته هم پاملرنه مـخ په ډېرېدو ښـکاري. همدارنګـه ۲۰۲۳ ز کال د منځنۍ اسـیا هېوادونو په تړاو د ګڼو غونډو شـاهد وو: C5+۱ لومـړۍ سرمشـریزه، د چین ـ منځنۍ اسـیا سرمشـریزه،د ټرانس ـ کسـپین فورم، د اسـتانې بین المللی فورم او داسې نور.
منځني قدرتونه هم پـه ډېرېدونکي ډول د خپل حضور زیاتولـو په حال کې دي. د بېلګـې په توګه ترکیه چې د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره له تاریخي، قومي او ژبنیز لحاظه تړاو لري، خپلې اړیکې پیاوړې کړي. د رغنیزو، بیخ بنسـټونو او مخابراتو په برخو کې یې پانګونه د پام وړ ده.
ایران د خپل کلتـوري او جغرافیایـي نژدیوالي له امله په سـیمه باندې نظـر لري، هند هـم د خپلو تاریخي اړیکو او د چین د شـتون له امله سـتراتیژیکو اندېښنو یې هڅولی چې د سیمې له هیوادونو سره خپلې اړیکې ښې وساتي.
د منځنـۍ اسـیا هیوادونه د څو بعدي بهرنۍ پالیسـۍ پـه تعقیب کې دی. د دې لپاره چـې د لویو قدرتونو تر منځ د جګړې د سـیالۍ په ډګر تبدیل نهشـي د منځنۍ اسـیا دولتونه د دغو بېلابېلو قدرتونو تر منځ خپل مانور کوي څو د خپلو سـتراتیژیکو موقعیتونـو څخه په ګټنه اعظمي ګټه ترلاسـه کړي، نو له همدې امله تر ممکنه حده دوی پر یوه قـدرت تکیې څخه ډډه کوي. د دې لپاره چې خپله خپلواکي وسـاتي د متوازنو اړیکو په لټه کې دي،خو پـه عمل کې خپل په دغه څو بعدي بهرنۍ پالیسۍ کې ډېر بریالي نه معلومېږي.
په سـیمه کـې د څو بعـدي بهرنۍ پالیسـۍ مخکښ د قزاقسـتان پخوانی ولسمشـر نورسـلطان نظربایوف وو هغـه پـه دې اړه ویلـي وه «د ټولو دولتونو سـره د دوسـتانه او وړاندوینـې وړ اړیکـو پراختیا چې د نړۍ پـه چارو کې مهـم رول لوبـوي او په عملـي توګه د هېواد په ګټـه وي ترجیح ورکوي.» نو لـه همدې امله د منځنـۍ اسـیا هېوادونو د اقتصـادي ودې چټکتیا او د سـیمه ییزې سـولې او ثبات تأمین لپاره په ګډه هڅه کوي.
د سـیمې د دغه سیاست پر بنسټ منځنۍ اسیا د بدلون په درشـل کې ده. سیمه‌ییز محوره اقتصادي لید په‌کې د ودې په حال کې دی؛ په سـیمه کې د یو شمېر قدرتونو نفوذ د ډېرېدو او یو شـمېرو نورو بیـا د لږېدو په حال کې معلومېږي.
د منځنۍ اسـیا د هېوادونو همدا د څـو اړخیزه بهرنۍ پالیسـۍ لیـد پـر دې بریالۍ شـوی چې په سـیمه کـې د سـترو بهرنیـو قدرتونو د بشـپړ تصـرف مخه ونیسي.
لنډه دا چې دا سـیمه د اروپا او اسیا تر منځ د یوه پل په توګه د هغې مخ پر وده اقتصادي پوټنشـل بین المللي پاملرنه ځانته را اړوي،نو ځکه وایو چې دا سیمه نوې د راپورته کېدو په درشل کې ده.



# د بشر حقونه او د غزې لوبه!

محمدعلي‌عظمت

نړۍ کې د ژويو خوندي پاتې کېدا او ساتنې لپاره هم تنظيمونه او اداري شته، هغوی شپه او ورځ په دې هڅه او هاند کې وي، څو هغوی ژوندي او خوندي پاتې شي. سره له دې چې د ګواښ او خطر پېښولو، له امله د ځينو ژويو ختمېدل په کار دي، همداشان بعضې حلال حيوانات چې د شرعې له مخې يې اجازه وي کوم مصلحت نه وي په کې، په سمه شرعي طريقه د هغو ښکار په کار دی. د حيواناتو د ساتلو، ژغورلو، خوندي پاتې کېدا لپاره ډېرې اداري او تنظيمونه کار کوي. ولې له بده مرغه مسلمانان له دې حقوقو بې برخې دي، يعنې نور انسانان چې کوم حقوق لري، مسلمانان يې نه لري.

له ۱۹۴۸ز راهيسې په فلسطين کې جنګ دی، داسې جنګ چې هغه يهودو ته حق ورکوي، دلته لوی اسرائيل جوړ کړي، سره له دې چې يهوديان دلته د هستوګنې او دولت جوړولو حق هم نه لري، ځکه دوی له موسی عليه السلام سره جهاد او د دې سيمې له فتح کولو کلک انکار وکړ؛ خو ۱۹۴۸ز کې يې د لويو سترو دولتونو په ملاتړ د حکومت تيره کېښوده، ورو ورو يې هغه ته په پوره بدمعاشۍ وسعت ورکړ، له عربو واکمنو يې خاورې لاندې کړې او فلسطين يې په برخو برخو وویشه!

د ۱۹۸۰ز کال په لسيزه کې د حماس غورځنګ جوړ شو، هغوی (د غورځنګ غړيو) کوښښ وکړ او له نړيوالو اصولو سره يې په غزه کې حکومت جوړ کړ، خو بيا هم يهوديانو (صهيونستانو) هر وخت د ټول فلسطين د هرې سيمې هستوګن شهيدانول، ټپيانول او بنديانول، خو عربي واکمنو په دې غوږونه نه ګرول (حتی اوس هم چوپ او غلي دي) بلکې ځينې د تېر په څېر له صهيونستانو سره سوداګري او تجارت لري. د ترکيې او اُردن هېوادونو تازه ترکاري د اسرائيلو په بازارونو کې خرڅېږي!!

د اکتوبر له ۷مې له طوفان الاقصی را په دې خوا صهيونستانو ځمکنې او هوايي يرغلونه پيل کړل، ولې په ځای د دې چې لوی هېوادونه د دې غندنه وکړي، د امريکا په ګډون ډېرو د صهيونستانو ملاتړ وکړ او د ډېرو لوړپوړي چارواکي راغلل، له اسرائيلو سره يې غمرازي وکړه او د مرستو او همکاريو وعده يې ورسره وکړه. د غزې مسلمانان ښځې او سړي، سپينږيري او ماشومان؛ بشري حقوق نه لري؛ ځکه امريکا، صهيونستانو او نورو له دوی څخه هغه (بشري حقونه) اخيستي او د هغوی په قاموس کې دوی ترهګر دي، څوک چې ترهګر وي، په هغوی د هېڅا رحم هم نه راځي!!

هو! نه يوازې د غزې بلکې د ټول فلسطين وګړي ترهګر دي؛ ځکه د خپلې خاورې لپاره په جهاد بوخت دي، همداشان د عقيدې او اسلام لپاره په غزا مصروف دي، شهيد عبدالله عزام به ويل، که له دين څخه دفاع ترهګري وي، نو موږ ترهګر يو او که له اسلامي خاورې څخه دفاع تروريزم وي، نو موږ تروريستان يو. امام شافعي رحمه الله به ويل: که له اهل بيتو سره مينه او محبت رافضيت (شيعه توب) وي، نو ثقلان (انسانان او پېريان) دې ګواه وي چې زه شيعه يم. (بيهقي ج:۲ ، ص: ۷۱ او ابن عساکر ج: ۵، ص: ۳۱۷ ـ ۳۱۸)

که له خپلې خاورې دفاع کول ترهګري وي، بيا د اوکراين واکمن ولادمير زيلنسکي هم د خپل هېواد لپاره جنګېږي او اوکراين خپل هېواد بولي، نو د نوموړي مبارزه ترهګري ده او نور ټول لوېديځ يې هم په ښکاره ملاتړ کوي. همداراز ولادمير پوتين هم دعوی لري او په اوکراين يې د دې لپاره بريد کړی چې زيلنسکي يې حکم نه مانه، پوتين حق لري د پاچا زيلنسکي خلاف وجنګېږي. د دوو لويانو سره جنګ دی، عام خلک په دې کې وژل کېږي، نو دواړه ترهګر او ظالمان دي!

اصل موضوع د ټول فلسطين او په ځانګړې د غزې لوبه ده، هلته هر څه صهيونستانو وران ويجاړ کړي ، ټولې لارې يې وربندې ترلې او خوراکي توکي يې وربندي بند کړي دي، هېڅ نه ورپرېښودل کېږي! غزه کې ماشومان له لوږې شهيدانېږي، ولې يې د نړۍ مدني فعالان سيل کوي، هغوی خو صهيونستانو ته هېڅ هم نه شي ويلی، امريکا او ملګرو ته يې سپړ هم نه شي کولی، حيوانات حقوق لري (ګټور/غير مضر يې اسلام کې هم لري) د هغو فعالين په يوه حيوان ډېر خپه کېږي، اما د غزې په ماشومانو هيڅ نه خپه کېږي. په هغه لويه ورځ به بهانې او پلمې نه چلېږي. د نړۍ په مخ لومړني وګړي دي، چې ۱۹۴۸ز کال راهيسې له لوی شيطان سره يې جهاد پيل کړی. مرګ په خوښۍ ورځي. د مکې مکرمې مشرکانو په رسول الله ص او په ملګرو هر اړخيز بنديزونه لګولي وو، همدا رنګه ټولو کفارو او ډارنو مسلمانو واکمنو د غزې په اوسېدونکو اونورو مسلمانو وګړيو بندېزونه لګولي!!



# د افغانستان نا امني غوښتونکي به خپله د اور خوراک شي

حيات الله حليم

د افغانستان د حالاتو په اړه سالم قضاوت اوس د هرچا په ذهن کې موجود دی ځکه وينو چې د تېرو څلور نيمو لسيزو په پرتله نن سبا امنيت د داد وړ او عام ولس خوشحاله دی ځکه د دوی فردي او ټولنيزحقوق د اسلامي ارشاداتو په رڼا کې خوندي او په بشر ډول تامين شوي دي، د کوکنارو کرکيله صفر شوې چې دا د فردي او ټولنيزو حقوقو د رعايت ترټولو لوړ مثال دی،د بشريت په مقابل کې د جمهوريت د بې تفاوتې دورې په نيشه توکو روږدي کسان د درملنې لپاره د ښارونو له کوڅو را ټول او درملنې په موخه ملي پروګرام ورته جوړ شوی.

په هره برخه کې د بيارغونې کارونه روان دي، کانونه په معياري توګه استخراجېږي تر ټولو مهم داچې د هېواد په شمال کې خامو نفت تصفيه کېږي د کرنيز سکتورپه برخه کې د قوشتېپې کانال د عام ولس په شنډو هيله منه موسکا را وستې که موږ پورتنې حقايق د قلم په نوک اويا د قال په ژبه را نه وړو ، د علايمو او قراينو له مخې هم دا حقيقت څرګند دی ، اسلامي امارت له را تګ د مخه د دولت په اداري ، نظامي او فرهنګي چوکات کې د قدرت داسې تبعيضي جزيرې موجودې وې چې عام ولس ته د منلو نه وې ځکه ټولو هېوادوالو پورتنيو ناخوالو او دردناکو نادودو ته د سرپه سترګو کتل،خو د نيوکې او مخنيوي حق او جرآت يې نه درلود ، د اسلامي امارت په را تګ سره نه يوازې د قدرت ټولې ناروا جزيرې له منځه لاړې بلکې ټول مسلمان ملت ته په يوه سترګه وکتل شول ، ټولنيز مفاسد له خپلو ټولو ډولونو سره لکه بډې اخيستل، وسله والې غلاوې ، باج اخيستل د نړيوالو مرستو زيښاک د دولتي املاکو غصب دا ټول له منځه لاړل چې همدا اوس د غصب شويو مځکو د استرداد ملي پروسه روانه او د غاصبينو له حريصو منګلو غصبي املاک اخيستل کېږي،

ملي عوايد لکه د برېښنا د لګښت تعرفې چې له دې د مخه زور واکانو پرې خېټې اچولې وې حصول او د ملي عوايدو په توګه ملي بانک ته جمع کېږي، د متوازن انکشاف په رڼا کې د خپل هېواد په بوديجه پراختيايي پروژې پيل شوې او عملاً يې ثابته کړه چې اسلامي امارت د دغه غم ځپلې ملک د ربښتني غمخوار او وارث په توګه د عمل په ډګر کې را څرګند او ملت ترې خوشحاله او راضي دی په کلتوري برخه کې د کابل په ښار او نورو ولايتونو په مرکزونو کې بت پرستۍ د ورته اعمالو او حرکاتو مخه نيول شوې او د کيش شخصيت ناروا او مردود فرهنګ کنترول شوی.

په تيرر ژيم کې په ښکاره عام ولس له حکومت څخه د پرديو د اشغال له وجې ناراض و، د کرکې او نفرت په سترګه يې ورته کتل ، نه يوازې ملک اشغال و، بلکې ټول حکومتي امتيازات هم هغه چاته اړوند ول چې په افغانستان کې د پرديو ګټو ته وفادار وو او يا يې د پردې ترشا د دوی ارزښتونه منلي وو، پورتنې مثالونه ټول په دې ګواه دي چې عام ولس اوس د زړه له کومې له اسلامي امارت راضي او ننګه او ملاتړيې کوي ، له بل اړخه دا تاريخونو هم په ثبوت رسولې چې په افغانستان کې له حقيقي اسلامي نظام پرته چې په خپله به د افغانانو په ذريعه تحقق مومي نورې ابن الوخت او پردي پاله ډلې ټپلې چې په وارداتي مفکورو عيارې وي هېڅکله د عام ولس په زړونو حکومت او واکمني نشي کولی ، همدارنګه ملت هم نور د چا فريب نه خوري او نه هم له دې وروسته خپل آرام اوآسوده ژوند د نورو د ګټو لپاره له ستونزو او کړاوونو سره مخ کوي .

افغانان په ډېر درناوي او صميمانه ډول نور د نړۍ له ټولو مغرضو هېوادونو او ټولنيزو بنسټونو څخه هيله کوي چې نور له هغه چا سره چې افغانستان د دوهم ځل لپاره د فساد او ناامنيو په لومو کې را ښکيل کول غواړي ، تبليغاتي مرسته ونه کړي او نه هم د دوی د زهرجنو تبليغاتو لپاره د غونډو له لارې زمينه برابره کړي، ځکه هرهغه څوک چې په افغانستان کې ناامني غواړي په خپله به د دې بل شوي اورخوراک وي. معلومېږي چې مغرضو هېوادونو او سازمانونو د افغانانو روحيه مطالعه کړې او هغه شمېر مغرض هېوادونه او بنسټونه چې نه غواړي په افغانستان کې امن امان برقراروي د بېځايه غونډو په جوړولو سره د افغانانو ترمنځ منافقانه تبليغات کوي ، روحيه او ذهنيتونه د خپل هېواد د امنيت په اړه مغشوش ساتي او د داعش د حضور او فعاليت لپاره ګويا داچې داعش په افغانستان کې فعال مرکزونه لري او د پراخېدو په حال کې دی بې ځايه او بې سنده زهرجن تيلغات کوي ، په داسې حال کې چې د داعش بدنامه پديده حاضرحال په بشپړه توګه په افغانستان کې د تضعيف او رکود په حال کې ده ، افغانانو داعشي وسله وال د داسې اسلام ضد جنايتکارانو په توګه تشخيص او پېژندلي چېرې چې سررا پورته کړي د اسلامي امارت له همکارۍ پرته به يې سرونه ورتر غاړه کوي ځکه د دې ډلې حقيقت او ماهيت چې د اسلام د سپېڅلي دين د تخريب لپاره د اسلام د نړيوالو دښمنانانو له خوا جوړه او په لارې اچول شوی و،په بشپړه توګه تشخيص کړی او داعش يې د يوې بدنامې او مردودې پديدې په توګه پېژندلی ، زياتره د داعش د موجوديت او فعاليت لپاره د هغه هېوادونو او بنسټونو له لارې تبليغ کېږي چې داعشيان يې په دې بې غيرته اسلام ضد ماموريت مآمورکړي که څه هم اسلامي امارت په ملي او نړيواله کچه زيات دښمنان لري ځکه له اسلامي برم نه د ۱۴۰۰ کالو را پديخوا کفري نړۍ په خوف او ويره کې ده، نو ځکه د اسلام هر دښمن په خپل ټول توان هڅه کوي چې په افغانستان کې د اوسني دادمن امنيت د ګډوډولولپاره خپلو اجيرانو ته تخريبي دنده وسپاري خو بيا هم داده يوو،چې ددغه زبون وهليو دښمنانو په وس او توان کې هيڅ نشته ځکه د اسلامي امارت بنياد د اسلامي اصولو او اساساتو پربنسټ د خپل ولس په چوپړ کې ملاتړلې ولاړدی او د هرافغان هيثيت اوحقوق چې د هېواد هرقوم ته منسوب دي د اسلامي اصولو پربنا له تبعيض او تعصب پرته په مساوي ډول خوندي ساتي. همدا وجه ده چې اوس نړيوال هم دې نتيجې ته رسېدلي چې د افغانستان د ۴۵ کلن درد اوغم د مداو لپاره د اسلامي امارت له نخسې پرته بله نشته خو داچې بيا هم دوی په افغانستان کې د اسلامي امارت په ذريعه له را وستل شوي امنيت سره مخالفت کوي دا په ښکاره او له شک شبهې پرته له اسلام سره دښمني ده،که چېرې برعکس نړيوال په افغانستان کې د ثبات غوښتونکي وي بايد د افغانستان د اسلامي امارت په ضد له توطيو لاس واخلي او د هغه دلو ټپلو ملاتړ ونه کړي چې افغانستان د زړو ليوانو په شان کنجارې په خوبويني.

# د شعبان د ۱۵مې اړوند وضاحت

ليکوال: دوکتور عمر عماد

ممکن څوک په دغې شپه کې د عبادت په فضيلت د سورت دخان په دې آيت استدلال وکړی چې د ( فيها يفرق كل امر حکيم) څخه مراد همدغه شپه ده، خو د تفسير او حديثو له اړخه دغه قول مرجوح دی، بلکې راجح قول دا دی چې د هغه نه مراد ليلة القدر دی کوم چې د رمضان مياشت کې وي.

ممکن څوک په هغه مرفوع حديث چې د منلو وړ دی، استدلال وکړي: ( يطلع الله تبارك وتعالى إلى خلقه ليلة النصف من شعبان، فيغفر لجميع خلقه إلا لمشرك أو مشاحن ).

او څوک چې يی بدعت ګڼي هغوي وايي چې په دې اړوند احاديث ټول ضعيف دي.

اصولي قاعده دا ده چې کله يو کار د بدعت او سنت تر منځ وي نو ډېړه به ترې کېږي. يا ممکن په هغې بلې قاعدې استدلال وکړي چې وايي: که حرام او حلال يو ځای شي نو حرام به غالب ګڼل کېږي.

خو فکر کوم چې د اختلاف اصلي موضوع دا نه ده چې آيا د سورة الدخان له آيت څخه مراد کومه شپه ده، حتی که هغه مرجوح قول ومنو چې هغه همدغه د شعبان ۱۵ شپه ده، نو آيا هغه په دې دلالت کوي چې په دې شپه کې دې کوم خاص عبادت وشي؟ ابدا، نه.

او که دا ومنو چې پورتنی حديث هم صحيح دی ( يطلع الله تبارك وتعالى إلى خلقه ليلة النصف من شعبان، فيغفر لجميع خلقه إلا لمشرك أو مشاحن ) لکه شيخ ألباني چې وايي: ( حديث صحيح، روي عن جماعة من الصحابة من طرق مختلفة يشد بعضها بعضا وهم معاذ ابن جبل وأبو ثعلبة الخشني وعبد الله بن عمرو وأبي موسى الأشعري وأبي هريرة وأبي بكر الصديق وعوف ابن مالك وعائشة.) السلسله الصحيحة برقم(١١٤٤)

نو آيا ددې حديث صحت هم ددې دليل کېدلای شي چې په دغه شپه کې دې د نورو شپو په پرتله عبادت ډېر ثواب لري؟ بيا هم: ابدا، نه.

او ددواړو ( ابدا، نه) دليل دا دی چې عبادات توقيفي دي او په کوم عبادت چې امر نه وي شوي د هغه کول بدعت دی، همدا راز د فضايلو تعيين د شارع کار دی، نه اجتهاد.

او په دېدواړو قاعددو چې : کله يو کار د سنت او بدعت ترمنځ وي نو ډېړه به ترې کېږي. او که چې يو شی د حرام اوحرام تر منځ وي، يعنی له يو اړخه حلال، اوله بل اړخه حرام وي( او دواړه سره برابر وي) نو حرام به پرې غالب ګڼل کېږي ، او دده به ترې کېږي) په دی هم استدلال دلته دقيق نه دی، ځکه چې مخالف نه منې چې دا کار د بدعت او سنت ترمنځ دی، بلکه وايي چې دا قطعا سنت او مستحب دی. ددی نه آخوا دلته حرام او حلال يوځای شوي نه دی او نه دغه کار دوه اړخونه لرې تر څو حرام په حلالو غالب وګڼل شی.

نو بنا پر دې:

ما ته ددغی نزاع څخه د وتلو يوازينۍ لار دا ښکاري – والله تعالی اعلم– د هغو احاديثو څېړل دی چې پدغی شپه د عبادت په اړه راغلی دی.

شک نشته چې دغه احاديث ټول ضعيف دی، خو دلته بايد دی ته وکتل شی چې :

آيا دغه احاديث د ضعف په کومه کچې کې دی؟

ځکه چې د ځينی احاديثو ضعف قابل د جبران نه وي، لکه په سند کې ددرواغجن راوي شتون، چې دغه حديث نه بل ته ګټه رسولای شی، يا د محدثينو په اصطلاح ( لا يصلح للاعتبار والمتابعة) او يا نور ده ته ګټه رسولای شی ( ضعفه لا ينجبر)

او د ځينی احاديثو ضعف بيا قابل د جبران وي، لکه په سند کې د ضعيف راوي شتون ، او يا په سند کې انقطاع.

نو په دې صورت کې بيا که د يوحديث نور شواهد موجود وي، او له څو دا راز ضعيفو لارو روايت شوي وي، بيا تقويه کېږي او د عمل کولو وړ ګرځي.

ددې نه آخوا ، ډېر علماء دا هم وايي چې په ضعيف حديث باندې فضائل اعمال کې عمل کول جائز دی.

نو اوس که څوک خپله کولای شي چې ددغې شپې اړوند متعدد روايات راټول او بيا وڅېړل شي او د پورتني وضاحت په رڼا کې حکم پرې وشي او که خپله نشي کولای د محققينو علماوو تحقيق وګورئ چې په دې احاديثو کې يې څه ويلي دي؟

ما خپله يو کار هم نه دی کړی، نو ځکه څه پکې نشم ويلای.

خو همدا اوس می د ابن تيميه رحمة الله عليه د ا خبره وليدله چې ددغي شپې عبادت ته يې پکې ميلان ښوولی دی، او وايي :

« ومن هذا الباب: ليلة النصف من شعبان، فقد روى في فضلها من الأحاديث المرفوعة والآثار ما يقتضي أنها ليلة مفضلة وأن من السلف من كان يخصها بالصلاة فيها، وصوم شهر شعبان قد جاءت فيه أحاديث صحيحة. ومن العلماء: من السلف (١) من أهل المدينة، وغيرهم من الخلف، من أنكر فضلها، وطعن في الأحاديث الواردة فيها،... وقال: لا فرق بينها وبين غيرها.

لكن الذي عليه كثير من أهل العلم، أو أكثرهم، من أصحابنا وغيرهم –على تفضيلها، وعليه يدل نص أحمد، لتعدد الأحاديث الواردة فيها، وما يصدق ذلك من الآثار السلفية، وقد روي بعض فضائلها في المسانيد والسنن. وإن كان قد وضع فيها أشياء أخر)

او په بل کتاب کې وايي: ( وأما ليلة النصف من شعبان ففيها فضل، وكان في السلف من يصلي فيها، لكن الاجتماع فيها لإحيائها في المساجد بدعة) والله اعلم.

# شعر و ادب

## غزل

**مفتون**

دلته واسطو کیسه خـرابه کـړه
سپینو سپینو خولو کیسه خرابه کړه
ښي بغل کې یو او چپ کې بل ګرځي
اوښي او خوریو کـیسه خرابه کړه
مورِ سره خو نشته کیسه بل رقم
خان سره پیسو کـیسه خرابه کړه
دا د جمهورت دا یې د اوس عکس
تش په نوم ویښتو کیسه خرابه کړه
ماته خو معلومه دې کې څه چل دی
دري او دوو کوزدو کیسه خرابه کړه
فرق یې له انجـونو سره نه کېږي
دا رقـم کالو کیسـه خـرابه کړه
نور مفتونه څـه ور باندې مه لیکه
ســتا سپینو بیتو کیسه خـرابه کړه

## غزل

**صایب‌تبریزی**

یارب از عرفان مرا پیمانه ای سرشار ده
چشم بینا، جان آگاه و دل بیدار ده
هر سر موی حواس من به راهی می رود
این پریشان سیر را در بزم وحدت بار ده
در دل تنگم ز داغ عشق شمعی برفروز
خانه تن را چراغی از دل بیدار ده
مدتی شد تا ز سرمشق جنون افتاده ام
سرخطی از نو به این مجنون بی پرگار ده
نشأه پا در رکاب می ندارد اعتبار
مستی دنباله داری همچو چشم یار ده
در لباس تن پرستی پایکوبی مشکل است
دامن جان را رهایی زین ته دیوار ده
قسمت خاصان بود هر چند درد و داغ عشق
عام کن این لطف را، بخشی به این افگار ده
برنمی آید به حفظ جام، دست رعشه دار
قوت بازوی توفیقی مرا در کار ده
پیچ و تاب بی قراري رشته صد گوهرست
گنج را از من بگیر و پیچ و تاب مار ده
چار دیوار عناصر نیست میدان سماع
رخصت جولان مرا در عالم انوار ده
چند مالم سینه بر ریگ روان از تشنگی؟
شربت آبی به من زان تیغ بی زنهار ده
مدتی گفتار بی کردار کردی مرحمت
روزگاری هم به من کردار بی گفتار ده
چند چون مرکز گره باشد کسی در یک مقام؟
پایی از آهن به این سرگشته چون پرگار ده
شیوه ارباب همت نیست جود ناتمام
رخصت دیدار دادی، طاقت دیدار ده
کار را بی کارفرما پیش بردن مشکل است
کارفرمایی به من از غیرت همکار ده
سینه ای چون چنگ لبریز فغانم داده ای
صددهن در ناله کردن همچو موسیقار ده
بیش ازین مپسند صائب را به زندان خرد
از بیابان ملک و تخت از دامن کهسار ده

# افغان اعلانات

**موضوع: اعلان پروژه تدارک سبزیجات.**

پروژه تدارک سبزیجات ضرورت ریاست محترم خدمات برای ریاست عمومی اداره امورامارت ا.ا دارای تشخیصه نمبر AOP/G/001/1403/NCB
ریاست عمومی اداره امور امارت ا.ا از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی پروژه فوق الذکر اشتراک نموده ونقل سافت شرطنامه مربوط را در فلش دسک از ریاست تدارکات و یا از ویب سایت ریاست عمومی اداره امور https://aop.gov.af به دست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰ بجه قبل از ظهر مؤرخ ۱۴۰۳/۱/۱ به ریاست تدارکات ریاست عمومی اداراه امارت ا.ا واقع محوطه (تعمیر اسبق) وزارت معدن ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.
تضمین آفر به طور گرنتی بانکی مبلغ (۱۰٤،۰۰۰) یکصدو چهار هزار افغانی بوده وجلسه آفرگشائی مؤرخ ۱۴۰۳/۱/۱ به ساعت ۱۰ بجه قبل از ظهر در صالون جلسات ریاست تدارکات تدویر می گردد.

***

**موضوع: اعلان پروژه تدارک مواد خوراکه و نوشیدنی.**

پروژه تدارک مواد خوراکه و نوشیدنی ضرورت ریاست محترم خدمات برای ریاست عمومی اداره امورامارت ا.ا دارای تشخیصه نمبر AOP/G/002/1403/NCB
ریاست عمومی اداره امور امارت ا.ا از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی پروژه فوق الذکر اشتراک نموده ونقل سافت شرطنامه مربوط را در فلش دسک از ریاست تدارکات و یا از ویب سایت ریاست عمومی اداره امور https://aop.gov.af به دست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰ بجه قبل از ظهر مؤرخ ۱۴۰۳/۱/۲ به ریاست تدارکات ریاست عمومی اداراه امارت ا.ا واقع محوطه (تعمیر اسبق) وزارت معدن ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.
تضمین آفر به طور گرنتی بانکی مبلغ (۹۳،۰۰۰) نود و سه هزار افغانی بوده وجلسه آفرگشائی مؤرخ ۱۴۰۳/۱/۲ به ساعت ۱۰ بجه قبل از ظهر در صالون جلسات ریاست تدارکات تدویر می گردد.

***

**موضوع: اعلان پروژه تدارک قرطاسیه باب.**

پروژه تدارک قرطاسیه باب ضرورت ریاست محترم خدمات برای ریاست عمومی اداره امور امارت اسلامی افغانستان دارای تشخیصه نمبر AOP/G/008/1403/NCB
ریاست عمومی اداره امور امارت ا.ا از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی پروژه فوق الذکر اشتراک نموده ونقل سافت شرطنامه مربوط را در فلش دسک از ریاست تدارکات و یا از ویب سایت ریاست عمومی اداره امور https://aop.gov.af به دست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰ بجه قبل از ظهر مؤرخ ۱۴۰۳/۱/۷ به ریاست تدارکات ریاست عمومی اداراه امارت ا.ا واقع محوطه (تعمیر اسبق) وزارت معدن ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.
تضمین آفر به طور گرنتی بانکی مبلغ (۱٤۰،۰۰۰) یکصدو چهل هزار افغانی بوده وجلسه آفرگشائی مؤرخ ۱۴۰۳/۱/۷ به ساعت ۱۰ بجه قبل از ظهر در صالون جلسات ریاست تدارکات تدویر می گردد.

***

**موضوع: اعلان پروژه تدارک گاز مایع.**

پروژه تدارک گاز مایع ضرورت ریاست محترم خدمات برای ریاست عمومی اداره امور امارت اسلامی افغانستان دارای تشخیصه نمبر AOP/G/004/1403/NCB
ریاست عمومی اداره امور امارت ا.ا از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی پروژه فوق الذکر اشتراک نموده ونقل سافت شرطنامه مربوط را در فلش دسک از ریاست تدارکات و یا از ویب سایت ریاست عمومی اداره امور https://aop.gov.af به دست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰ بجه قبل از ظهر مؤرخ ۱۴۰۳/۱/۴ به ریاست تدارکات ریاست عمومی اداراه امارت ا.ا واقع محوطه (تعمیر اسبق) وزارت معدن ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد. تضمین آفر به طور گرنتی بانکی مبلغ (۱۲۰،۰۰۰) یکصدو بیست هزار افغانی بوده وجلسه آفرگشائی مؤرخ ۱۴۰۳/۱/۴ به ساعت ۱۰ بجه قبل از ظهر در صالون جلسات ریاست تدارکات تدویر می گردد.

***

**موضوع: اعلان پروژه تدارک وشت باب.**

